ACBAR
Agency Coordinating Body for
Afghan Relief & Development

اکبر
د افغانانو لپاره د بشري او
پراختيايي مرستو د همغږۍ اداره

# افغانستان - د سیمه‌اییزه کیدنې معلوماتي پاڼه

## په افغانستان کې د سیمه‌اییزو مؤسسو په مشرۍ سره د بشري مرستو پیاوړي کول

د سیمه‌اییزه کیدنې تخنیکي کاري ډلې یا (LTWG) له لخوا!

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

# افغانستان ـــ د سیمه‌ایزه‌کېدنې[1] معلوماتي پاڼه

## ۱. پېژندنه

په ۲۰۱۶ کال کې د (Grand Bargain) او په ۲۰۱۵ کال کې د (Charter for Change) په څېر نړیوالو ژمن‌لیکونو وکولی شول چې د مرستو د سمون په موخه د سیمه‌ایزه‌کېدنې مفهوم خورا د پام وړ وګرځوي. دا اصل په ۲۰۰۱ کال کې کله چې افغان دولت جوړېدو؛ نو د اجنډا مهمه برخه وه، او د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي لخضر ابراهیمي هم په ۲۰۰۲ کال پر یادې موضوع ټینګار وکړ او وویل چې افغانان باید د بیارغونې په برخه کې مرکزي رول ولري. د مالکیت، ادارې او مشرتابه په برخه کې د لخضر ابراهیمي وینا لومړنی غوښتنه وه چې نن ورځ خورا اړینه بلل کېږي.[2]

له دې ډېرو خبرو او ژمنتیاوو سره-سره بیا هم د سیمه‌ایزه‌کېدنې په برخه کې خورا کم پرمختګ شوی دی. تر ۲۰۲۳ کال پورې د نړیوالو بشري مرستو یوازې ۴.۵ سلنه مرستې سیمه‌ایزو فعالینو ته رسېدلې دي او دا اندازه د (Grand Bargain) د ژمن‌لیک له مخې د ټاکل شوې موخې څخه چې ۲۵ سلنه ده، خورا ټیټه ده.[3] سربېره پردې، د ډېرو نورو همکارانو په څېر، افغان سیمه‌ایزې مؤسسې هم د نړیوالې پالیسۍ او تصمیم نیونې له فرصتونو څخه محرومې دي او د سیمه‌ایزه‌کېدنې د هڅو د ډیزاین او پلي کولو په برخه کې محدود نفوذ لري او په هغو پروسو کې د مؤثره مالکیت له نشتوالي سره مخ دي چې رغنده یې دوی اغېزمن کړي دي. همدغه سیستماتیک خنډونه، د مرستو کمېدل او د عملیاتي ننګونو زیاتیدل هغه څه دي چې عادلانه ګډ کار، په دوامداره او اصولي ډول د ځواک او اختیار د لېږد هڅې کمزورې کوي او لا یې هم ننګوي. دې کار په افغانستان او ټوله نړۍ کې د سیمه-ایزه‌کېدنې په برخه کې د ښکېلو خواوو او ټولنو مایوسي او غوښتنې زیاتې کړې دي.

شونې ده چې افغانستان د سیمه‌ایزه کېدنې په پروسو کې یو احتیاطي داستان وي، چېرته چې ویناوې له عمل څخه ډېرې وي. ځینې افغان فعالین یادونه کوي او وایي چې که څه هم سیمه‌ایز فعالین منطقوي پوهه، باوري اړیکې او تلپاتې شتون لري او دا هغه ځانګړتیاوې دي چې د اغېزمنو او حساب ورکوونکو مرستو لپاره خورا اړینې دي؛ مګر بیا هم د پرېکړې کولو اصلي واک او اختیار له نړیوالو بنسټونو سره وي. دا جلاوالی د مؤسسو پایښت کمزوری کوي، د افغانستان د خلکو اصلي غږونه له ستراتېژیانو څخه باسي او د انعطاف پرځای د انحصار د پیاوړتیا خطر رامنځته کوي.

---

[1] سمه‌ایزه‌کېدنه د (ک) په زبر((َ)) سره د (localization) لپاره دقیقه ژباړه ده، په دې برخه کې ځینې نورې ژباړې هم د پام وړ وې، د بیلګې په ډول، ځایي‌کیدنه یا هم محلي‌کیدنه؛ مګر ژباړن وېتیله چې د سیمه‌ایزې‌کیدنې ویوکي غوره وبولي. ددې ویوکې تعریف داسې کیدلی شي چې سیمه‌ایزه‌کیدنه د واک، سرچینو او مشرتابه لېږد سیمه ییزو او ملي فعالینو ته ویل کیږي. ژباړن

[2] https://reliefweb.int/report/afghanistan/transcript-press-conference-srsg-afghanistan-lakhdar-brahimi

[3] https://knowledge4policy.ec.europa.eu/publication/global-humanitarian-assistance-report-2024_en, no figures are available for Afghanistan.

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

دا معلوماتي پاڼه د سیمه‌ایزه‌کیدنې تخنیکي کاري ډلې یا (LTWG)[4] لخوا او د افغانانو لپاره د بشري او پرمختیایي مرستو د همغږۍ اداري یا (اکبر) او د افغانستان د شرایطو د ملاتړ میکانیزم یا (ACSM)[5] له لوري جوړه شوې ده او په افغانستان کې د سیمه‌ایزه‌کیدنې په برخه کې یو عمومي جاج وړاندې کوي. دا معلوماتي پاڼه کلیدي فعالین، تازه جریانونه او ننګونې په نښه کوي، داسې چې د افغانانو په مشرۍ هڅې له ستر نړیوال غورځنګ سره نښلوي؛ ترڅو مرستې عادلانه او تر سیمه‌ایزې مشرۍ لاندې وي.

## ۲. سیمه‌ایزه‌کیدنه څه شی دی- او څوک سیمه‌ایزګڼل کیږي؟

سیمه‌ایزه‌کیدنه محلي او ملي فعالینو ته د نړیوالو مرستو د سمون په پار د واک، سرچینو او رهبرۍ لیږد ته ویل کیږي چې دا پیژاند د افغانستان لپاره هم د پلې کیدو وړ دی. د ډیرو نورو پدیدو په څیر د سیمه‌ایزې‌کیدنې لپاره هم منل شوی تعریف نشته؛ څو وښایي چې څوک باید "سیمه‌ایز" وبلل شي. د بشرپاله غبرګون، پراختیایي، او پخلاینې سکتورونو کې د "سیمه‌ایز" ویوکی بیلابیل تفسیرنو او ماناوې لري، چې په دې برخه کې (Grand Bargain) داسې لیکي "سیمه‌ایزه‌کیدنه د شونتیا تر حده محلي او د اړتیا تر حده نړیوال‌کیدنه ده" [6] او په دې موخه رواني هڅې سیمه‌ایزه‌کېدنه بولي. په دې برخه کې NEAR او Peace Direct، ډیرو بدلون راوړونکو طریقو ته د ودې ورکولو خبره کړې ده کوم چې د جوړښتي نابرابریو بیا توازن کولو او د مرستو په ترتیب او رسولو کې د سیمه‌ایزو بنسټیزو لوبغاړو د مرکزي کولو هڅو ته اشاره کوي.

سره له دې چې د سیمه‌ایزې کیدنې د تعریف په برخه کې بیلابیل نظرونه دي؛ مګر بیا هم **د سیمه‌ایزه‌کیدنې ځینې اساسي اصول** په لاندې ډول دي:

| ځینې اساسي اصول: | له دې برخو سره مرسته کوي: |
|---|---|
| سیمه ایزه رهبري او پوهه | ځواکمنتیا |
| منصفانه او وړ مشارکت | مساوات |
| د اغیزمنو ټولنو له اړتیاوو سره سمون | حساب ورکونه |
| سیمه ایزو او ملي فعالینو ته د سرچینو لیږد | مالي خپلواکي |
| ګډې پریکړې او ګډ نوښتونه | مالکیت |
| د مختلفو سیمه‌ایزو لوبغاړو پیژندنه | شمولیت |
| اوږدمهاله او انعطاف منونکی ملاتړ | پایښت |
| د شرایطو او کلتوري پوهې درناوی | اړوندتیا |
| د خطرونو شفاف شریکول او باور رامنځته کول | متقابله حساب ورکونه |

[4] The Localization Technical Working Group (LTWG) was established in July 2023. It is a multi-stakeholder group comprising donors, UN agencies, clusters, INGOs, and NNGOs and is coordinated by ACBAR.
[5] The UK Aid funded Afghanistan Context Sensitivity Mechanism (ACSM) is a collaboration between Saferworld and swisspeace and has supported the LTWG for the past two years.
[6] https://interagencystandingcommittee.org/grand-bargain-hosted

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

| | |
|---|---|
| سیمه‌اییزو واقعیتونو سره د مطابقت د سیستمونو پلې-کیدنه | لاسرسي |
| د سیمه‌اییزو سیستمونو او ادارو پیاوړتیا | انعطاف |
| د مدني فضا او فعاله چاپېریال ساتنه | سیمه ایزه اداره |
| د سیمه ییز نوښت او انطباق ملاتړ | مؤثریت |

پداسې حال کې چې ځینو نړیوالو ښکیلو خواوو د سیمه‌ایزه‌کیدنې په برخه کې د خپلو ستراتیژیو په بیانولو باندې پیل کړی دی؛ سمه‌اییزې‌کیدنه لا هم په افغانستان کې د چوکاټونو او اصولو مهمه برخه ګرځیدلې ده؛ مګر ډیری یې هغو لارو چارو ته لومړیتوب ورکوي چې د ګډکار پر بنسټ وي. د LTWG لخوا یوې چټکې سروې وموندله چې د سروې شویو ۲۱ نړیوالو مؤسسو له ډلې، یوازې نیمایي (۱۱) یې رسمي د ګډ کار ستراتیژۍ رامینځته کړې دي او له دې جملې یوازې پنځه یې سیمه‌ایزه‌کیدنې ته وقف شوې ستراتیژي او تګلارې لري. دا عمومي انځور یو پراخ جریان منعکس کوي او هغه داده چې: **سیمه‌ایزه‌کیدنه تر ډېره پورې د ګډکاریا مشارکت د عینکو له مخې تشریح کیږي، نه د ځواک، سرچینو او پریکړې کولو د جوړښتي بدلون له مخې.** له همدې امله، دا مهمه ده چې د **سیمه‌ایزه‌کیدنې په اړه کلیدي ناسم پوهاوی** روښانه شي:

| ناسم پوهاوی | توضیحات |
|---|---|
| **د فرعي قرارداد ترسره کول** | سیمه‌ایزه‌کیدنه یوازې د چوپړتیاوو وړاندې کولو په موخه د محلي مؤسسو کارونه نه ده؛ بلکې دا کار ګډ ځواک او پریکړه کولو ته اړتیا لري. |
| **یوازې د بسپنې په اړه** | سیمه‌ایزه‌کیدنه د خلکو غږ، مدیریت او ستراتیژیک نفوذ په بر کې نیسي؛ څو ولیدل شي چې مرستې څه ډول پلان او مدیریت کیږي او څرنګه لومړیتوب ورکول کیږي. |
| **د بسپنه ورکوونکي د اطاعت دنده** | سیمه‌ایزه‌کیدنه باید په عمل او اړیکو کې څرګنده شي، نه یوازې د وړاندیز په ژبه یا د راپور ورکولو په معیارونو کې. |
| **یوازینی هغه حل لارې چې ټولو ته وړ وي** | سیمه‌ایزه‌کیدنه باید ځانګړي ځایي واقعیتونه لکه کلتوري، سیاسي، جنسیتي او جغرافیایي هغه منعکس کړي. |
| **د نړیوالو مؤسسو ځای‌ناستی** | سیمه‌ایزه‌کیدنه د مسئولیتونو متوازن کول دي، نه د نړیوالو څخه جلاکېدل؛ ځکه خو باید ووایو چې نړیوالې غیردولتي مؤسسې د مخ پر ودې ملاتړ رول لري. |
| **د سیمه‌ایز مانا یوازې ملي ده** | په سیمه ییزو فعالینو کې د ټولنې پر بنسټ نهادونه، غیر رسمي شبکې، د ښځو ډلې او محلي چارواکي شامل دي - نه یوازې هغه ملي مؤسسې چې په ښاري مرکزونو کې میشته دي. |

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

| | |
|---|---|
| **یوازې بشري مرستې پلې کوې** | سیمه‌ایزه‌کیدنه د بشري، پراختیایي او پخلاینې په برخو کې انډولیزه بوختیا ده چې په هغه کې د زده‌کړې، روغتیا، معیشت او مدیریت برخې هم شاملې دي. |
| **په چټکۍ سره ترسره کیدی شي** | سیمه‌ایزه‌کیدنه یوه اوږدمهاله پروسه ده چې په سیستمونو، اړیکو او محلي بنسټیز پاینښت کې پانګونې ته اړتیا لري. |
| **ظرفیت باید د بسپنه ورکوونکو له سیستمونو سره سمون ولري** | د دې پر ځای چې د سیمه‌ایزو فعالینو څخه تمه وشي چې بهرني سیستمونو سره ځانونه برابر کړي، سیمه‌ایزه‌کیدنه باید د بسپنه ورکوونکو عملي چارې په بر کې ونیسي؛ څو سیمه‌ایز ځواک لا غښتلی او وړ وګرځي. |

له سیمه یېزو افغان لوبغاړو سره مشورو څخه دا روښانه کېږي چې دوی د سیمه‌ایزه‌کیدنې په اړه د ښکاره تعریف شوي یا عام شریک شوي پوهاوي پرته چارې ترسره کوي او دا ځکه چې، د ډېرو لپاره همدغه سیمه‌ایزه‌کیدنه په خورا ساده ډول ورځنیو چارو کې نغښتې ده. د افغانستان د سیمه‌ایزه‌کیدنه لب (Localization Lab) په څېر نوښت هڅه کوي چې د افغانانو په مشرۍ یادې تشې ډکې کړي. دا نوښت خورا زیات بنسټیز تعریفونه وړاندې کوي چې ټولنو ته د پرېکړو په فرصتونو کې د سیمه‌ایزه‌کیدنې او د افغان فعالینو پر ځواکمنتیا باندې ټینګار کوي؛ څو بشري غبرګونونه رهبري شي او په هیواد کې د مرستو راتلونکې برابره شي.[7]

ددې خبرو په رڼا کې ویلی شو چې د ' سیمه‌ایزه‌کیدنې ' او 'محلي' کلیدي تورو د تعریف لپاره په ټولیز ډول د نړدېوالي او ځواک دواړو په اړه جدي انعکاس ته اړتیا لیدل کېږي او په دې کې برخه کې اړینه ده چې څوک د پرېکړې کولو واک لري، د چا غږونه اوریدل کېږي او په پایله کې څوک ګټه ترلاسه کوي. د سیمه‌ایزه‌کیدنې تخنیکي کاري ډله یا (LTWG) په افغانستان کې د سیمه-ایزه‌کیدنې لپاره د لاندې کاري تعریف وړاندیز کوي، کوم چې له خپل تاریخي شالید څخه سرچینه اخلي:

> **په افغانستان کې سیمه‌ایزه‌کیدنه افغان بنسټونو او ټولنو ته د واک، مشرتابه، پرېکړې کولو او سرچینو موخه-ایز او مانا لرونکې لېږد ته اشاره کوي**، کوم چې دوی ته ددې وړتیا ورکوي چې مرستې له دې سره-سره چې پیچلی او عملیاتي محدود چاپیریال لري؛ مګر بیا یې هم په داسې لارو چارو برابرې کړي او یا یې ورسوري چې له شرایطو سره سم وي، ټولیزې وي او تلپاتې وي.
>
> په ذاتي لحاظ سیمه‌ایزه‌کیدنه ددې **مانا لري چې افغان ښکیلې خواووې ځواکمنې کړي، د بشري مرستو او پراختیایي نوښتونو مشري وکړي** او بلخوا نړیوالې ښکیلې خواوې د مسؤلو شریکانو په توګه کار ترسره کړي او د لاسرسوونې پر ځای د هڅو د دوام په موخه په بېلابیلو برخو کې ملاتړ چمتو کړي د بیلګې په ډول سرچینې او تخصصی کادر.

---

[7] https://coar.org.af/en/index.php/component/content/article/11-news/79-afghanistan-localization-lab-officially-launched-a-new-era-for-locally-led-humanitarian-efforts?Itemid=101

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

دا لاره چاره د ستراتیژۍ او د هغې د پلي کولو په برخه کې د افغانانو د مشرۍ او مالکیت پر اړتیا باندې ټینګار کوي کومه چې د انعطافي او اوږدمهاله ملاتړ لخوا حمایت کیږي او همدغه چاره بیا سیمه‌اییز ظرفیت پیاوړی کوي او ډیری مساوي مشارکتونه رامینځته کوي.

## ۲.۱ د افغانستان شرایطو ته په کتو سره د "سیمه‌اییز" ویوکي پرمفهوم پوهیدنه

په افغانستان کې د "سیمه‌اییز" مفهوم د فعالینو متنوع لړۍ په بر کې نیسي چې په ټولنو کې ځای پر ځای شوي دي او په مستقیم ډول د مرستو لخوا اغیزمنیږي. پداسې حال کې چې سیمه‌اییزه‌کېدنه، په ځانګړې توګه د بشري مرستو په برخه کې ډیری وختونه ملي او محلي نادولتي مؤسسو ته د واک له لیږد سره تړاو لري، نو اړینه ده چې داسې یوه ریښتینې لاره چاره وي چې د ټولنې پر اساس بنسټونه، غیر رسمي شبکې، ځایي مشران، د ښځو ډلې او بنسټیز خوځښتونه او ددې ټولو رولونه وپیژني. دا توري د هغو کسانو مثالي بیلګې وړاندې کوي چې شونې ده په افغانستان کې په مختلفو شرایطو کې "سیمه‌اییز" وګڼل شي. که څه هم دا ځانګړې ټولګه بشپړه نه ده؛ مګر د هغو فعالینو تنوع په ډاګه کوي چې مشري او زده کړه یې د اصولي، مؤثره او شرایطو پر بنسټ سیمه‌اییزه‌کېدنې لپاره خورا اړینه ده. په افغانستان کې د سیمه‌اییزه‌کېدنې د پرمختګ لپاره د همدې تنوع پیژندل خورا مهم دي چې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

| کټګوري | توضیحات |
|---|---|
| د همغږۍ بنسټونه او شبکې | د ACBAR، AWN، ANCBC، او SWABAC په څیر ادارې او مؤسسې د خبرواترو اسانتیاوې برابروي، د محلي مؤسسو او ټولنو ملاتړ کوي، دوی معلومات شریکوي او د ظرفیت لوړولو ملاتړ کوي. |
| ملي غیردولتي مؤسسې | په ملي یا محلي کچه هغه رامنځته شوې ادارې دي چې محلي کارکوونکي ګماري او مدیریت یې کیږي او بلاخره رسمي جوړښتونه لري کوم چې په سیمه‌اییزه کچه چارې ترسره کوي. له دې ډلې ځینې یې په ټول ولایت یا په څو ولایتونو کې فعالیت کوي؛ مګر ځینې نور یې خورا محلي دي. |
| سیمه‌اییزې حکومتي ادارې | غیرمتمرکزې ادارې دي چې په ولایتي، ولسوالۍ، یا ښاروالۍ دفترونه کې دي او د خدماتو وړاندې کولو دنده لري او په همغږۍ کې ښکیلې دي. |
| پر ټولنې ولاړ بنسټونه (CBOs) | هغه بنسټونه دي چې د ګډو اړتیاوو یا ګډو هویتونو په درشل کې جوړې شوې دي او په غیر رسمي ډول فعالیت کوي او په رغنده ډول خپلو ټولنو ته ځواب ورکوي. |

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

| | |
|---|---|
| **بنسټونه** | د ټولنې سره تړلې خیریه بنسټونه دي چې ډیری وخت په سیمه‌ایزه هوساینه او پراختیا کې بوختې وي؛ د بېلګې په ډول په زیربنایي هڅو کې. |
| **زراعتي ټولنې** | د بزګرانو او تولیدونکو رسمي یا غیر رسمي کوپراتیفونه دي چې موخه یې د تولیداتو لوړول، بازار ته لاسرسی او د سرچینو شریکول دي. |
| **د ټولنې رضاکاران** | په سیمه‌ایزه توګه هغه رضاکار فعالین دي چې د بسپنو وړاندې کوونکي او د بسپنو ترلاسه کوونکي سره نښلوي. د بېلګې په ډول د اوبو کاروونکو اتحادیې او دودیز (میرآب) سیستمونه. |
| **محلي ټولنې** | غیر راجستر شوې خو اغېزلرونکي فعالین دي؛ د بېلګې په ډول شوراګانې او پخوانۍ پراختیایي شوراګانې کومې چې د اړیکو، ملاتړ او خدماتو رسولو په برخه کې کلیدي رول لري. د افغان نادولتي مؤسسو لخوا په پراخه کچه د "سیمه‌ایز" په توګه کتل کیږي. |

## ۳. په افغانستان کې د سیمه‌ایزه‌کېدنې په برخه کې د پام وړ ټکي

افغانستان د سیمه‌ایزه‌کېدنې په دې سفر کې په یوه مهم پړاو کې دی. د نړیوالو معیارونو له مخې، دا هیواد له "راغوږېدونکي" پړاو څخه کوم چې د تازه رامنځته شوې همغږۍ او د سیمه‌ایزو لوبغاړو د مخ پر زیاتیدونکې پېژندنې له امله په ډاګه شوی دی د "لومړنۍ بنسټیزه کېدنې" پړاو ته لیږدي. که څه هم جوړښتي خنډونه او محدود تمویلي اصلاحات لا هم پاتې دي؛ مګر دا پړاو د مخ پر ودې حرکت، همغږۍ هڅو او د سیستم جوړونې په لور د لومړنیو ګامونو په درشل کې دی. (د نورو جزیاتو لپاره څلورمه برخه وګورئ).

که څه هم دا پرمختګونه لاهم بشپړ جوړښتي بدلون نه انعکاسوي؛ مګر بیا هم مهم او عملي ګامونه په نښه کوي. د دې هڅو پېژندل او رامنځته کول د افغانستان په پیچلي عملیاتي چاپیریال کې د اصولي او شرایطو پر بنسټ ولاړې سیمه‌ایزه‌کېدنې د پرمختګ لپاره خوار اړینه خبره ده.

**د افغان فعالینو لخوا د شبکو او پلیټ فارمونو له لارې د ځان تنظیمول؛** چې د همغږۍ، ستراتیژۍ او وړاندې کولو په چارو کې د زیاتیدونکي افغان مدیریت روښانه بېلګه ده. له دې ډلې دوه هغه یې په چټکۍ سره وده کوي:

- **د افغانستان د سیمه‌ایزه‌کېدنې لب:** دا لب د ۲۰۲۴ کال په لومړنیو کې رامنځته شو او د افغانستان د یو له پخوانیو نادولتي مؤسسو – یعنې (COAR) لخوا رهبري کیږي - او د (NEAR) شبکې لخوا یې ملاتړ کیږي، دوی ددې ملاتړ کوي چې افغان ټولنې باید د پریکړې کولو په مرکز کې ځای ولري او د سیمه‌ایز مدیریت د پیاوړتیا ملاتړ وشي.

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

- **د سیمه‌ایزه‌کېدنې تخنیکي کاري ډله یا (LTWG):** دا نوښت، چې د ۲۰۲۳ کال په وروستیو کې رامنځته شو او د اکبر مؤسسې له لورې پې همغږي ترسره کېږي کوم چې نړیوالې او افغان نادولتي مؤسسې او همدارنګه د ملګرو ملتونو فعالین سره یوځای کوي؛ څو د سیمه‌ایزه‌کېدنې لومړیتوبونه تعریف کړي او د همغږۍ په برخه کې سیمه‌ایز مدیریت او رهبري پیاوړې کړي.
- **د همغږۍ په فورمونو کې سیمه‌ایزه مشري؛** د بیلګې په ډول کومو کې چې محلي مؤسسې په مهمو کاري ډلو کې د (co-chair) رول په غاړه اخلي، چې په هغه د MHPSS تخنیکي کاري ګروپ او په لویدیځ افغانستان کې د (GIHA) کاري ګروپ، هم شامل دي.
- **په ستر اتیژیکو بحثونو کې د افغانانو د استازیتوب زیاتوالی؛** چې په هغه کې د دقیقو غونډو، بحثونو او غوره شوي نړیوال پلیټ فارمونه هم شامل دي، کوم چې د مهمو اندیښنو او مانداره ونډې په برخو کې فرصتونه رامینځته کوي.
- **د غړو د انتخاب د نورمونو بدلول،** هغه داسې چې د ملګرو ملتونو د غړو د ساتلو په پروسو کې د نړیوالو مؤسسو په پرتله د محلي او ملي مؤسسو لومړیتوب په زیاتیدو دی.
- **نړیوال لوبغاړي د رغنده پلې‌کونې څخه د شاتګ په حال کې دي؛** څو د تخنیکي مشورې، څارنې او مالي نظارت په څېر ډېر نور ملاتړي دندې ترسره کړي او دا هغه څه دي چې افغان غړو مؤسسو ته وړتیا ورکوي؛ ترڅو د چوپړتیاوو د وړاندې کولو په برخه کې مشري وکړي.
- **په تمویل کې د ډېرې رهبرۍ شونتیا؛** دا چې ملي مؤسسې او د هغوی استازي اوس په افغانستان کې د افغانستان د بشري مرستو صندوق (AHF) مشورتي بورډ برخه دي نو د بسپنو د تصمیم نیونې په برخه کې د سیمه ایزو لیډلورو پیاوړتیا رامنځته شوې ده.
- **د ظرفیت لوړولو دوامداره نوښتونه چې د سیمه‌ایزو فعالینو ملاتړ کوي،** چې په هغه کې د ملي مؤسسو لخوا رهبري شوي اوږدمهاله پروګرامونه، شبکې (د بیلګې په ډول د اکبر مؤسسې اوږدمهاله بشري مرستو پروګرام)[8] او د ملګرو ملتونو ادارو لخوا هدفمندې هڅې (د ښځو په مشرۍ بنسټونو ته د ملګرو ملتونو ملاتړ[9]، او د (UNDP) له لورې د ملي مؤسسو او مدني ټولنو د ملاتړ پروګرام)[10]

## ۳.۱ په افغانستان کې د سیمه‌ایزه‌کېدنې د وړتیا بر ابرونکي، فرصتونه او خطرونه

په افغانستان کې د مرستو فضا د وړتیا برابرونکو، فرصتونو او خطرونو له یو پیچلې ترکیب څخه جوړه ده. پر دې محرکاتو پوهیدل د بشردوستانه فعالینو او بسپنه ورکوونکو لپاره خورا اړین دي په تېره بیا هغه چې د اصولي سیمه‌ایزه‌کېدنې د پرمختګ لپاره چارې ترسره کوي. دې عواملو د سیمه‌ایزه‌کېدنې په مخ کې دواړه (فرصتونه او ننګونې) رامینځته کړي دي. ننګونه دا ده چې د ټول شموله او د افغانانو په مشرۍ د ګډکار یا همکاري ملاتړ وشي، پرته له دې چې بشري اصول زیانمن شي.

---

[8] https://www.acbar.org/site-page/7?=Humanitarian%20Twinning%20Program
[9] https://www.unwomen.org/en/news-stories/feature-story/2024/05/rebuilding-the-womens-movement-in-afghanistan#:~:text=According%20to%20UN%20Women%20Special,in%20women's%20organizations%2C%20not%20only
[10] https://www.undp.org/afghanistan/projects/afghanistan-ngo/cso-capacity-support

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

| | |
|---|---|
| برابرونکي یا هم فعالین | **انعطاف منونکې ټولنې او فعاله مدني ټولنې:** که څه هم جوړښتي خنډونه او محدود تمویلي اصلاحات لا هم پاتې دي؛ مګر دا هر څه بیا هم د افغانستان د سیمه‌ایزه‌کېدنې د غبرګون د وړتیا په برخه کې د ملا تیر حیثیت لري. د څو لسیزو راهیسې د ټولنې لخوا پرمخ وړل شوي غبرګونونه او بنسټیز تنظیمونه، لکه شوراګانې، جرګې، د ښځو ډلې او د کلي په کچه د تنظیم لارې چارې، هغه څه دي چې ژورې خو متناسبې پوهې ته یې وده ورکړه او د ټولنیز باور، مشروعیت، او ځایي تطبیقي غبرګونونو اساس یې ایښی دی، د کومو له مخې چې د سیمه‌ایزه‌کېدنې هڅې لا هم غښتلې کیدلی شي.<br>**د سیمه‌ایزې رهبرۍ میراث:** پخواني پروګرامونه لکه د ملي پیوستون او د وګړو منشور پروګرامونه کولی شي چې د ټول شموله او مانادارہ پراختیا لپاره د پام وړ ماډلونه او نمونې وړاندې کړي. یاد پروګرامونه کولی شي چې د عملي لارو چارو له مخې د خدماتو وړاندې کول، د سیمه ییزې مشرۍ غښتلي کول او د ټولنیز یووالي په رامینځته کولو کې مهم رول ولوبوي.<br>**د سیمه‌ایز ظرفیت او اداري بلوغ زیاتول:** په سختو شرایطو کې د مرستو رسولو په برخه کې د کلونو بوختیا وکولی شول چې د ډېرو ملي نادولتي مؤسسو تخنیکي، سازماني او د شرایطو پر بنسټ ظرفیتونه پیاوړي کړي. سیمه‌ایز فعالین له صفره پیل نه کوي؛ بلکې دوی ژورې ټولنیزې اړیکې، ځانګړی تخصص او د بسپنو د اداره کولو وړتیا لري؛ څو د ډونرانو له شرایطو سره سم چارې ترسره کړي او د همغږۍ چارې پرمخ یوسي.<br>**سیمه‌ایز نوښت او تطابق:** افغان ملي مؤسسې د محدود او ستونزمن چاپېریال په شتون کې بیا هم کولی شی تخلیقي او ټیټ لګښت لرونکې چارې ترسره کړي. (د بیلګې په ډول له کور څخه زده‌کړې، یا هم ګرځنده روغتیایي لاسرسی). ددې نوښتونو ملاتړ کولی شي مرستې لاهم مانادارہ او معیاري کړي او انعطاف په کې رامنځته کړي. |

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

| | |
|---|---|
| **فرصتونه** | **د نړیوالې پالیسۍ خوځښت:** نړیوالې ژمنو د بیلګې په ډول (Grand Bargain)، (Pledge for Change[11]) او د مدني ټولنو د ور کیدو لپاره د (DAC-OECD) سپارښتنې[12]، وکولی شول چې په بسپنه ورکوونکو او د ملګرو ملتونو ادارو باندې معیاري او تمویلي فشار رامنځته کړي؛ څو سیمه‌ایيزه‌کېدنه په ننګونکو شرایطو لکه افغانستان کې هم هم عملي شي.<br>**د نړیوالو مرستو کموالی:** له یو اړخه د مرستندویه بودیجې کموالی او له بل اړخه د نړیوالو فعالینو کمښت ددې لامل شوی چې د اوسني بشري جوړښت په اړه بیا له سره غور وشي . سیمه‌ایيزه‌کېدنه په زیاته توګه د مرستو د رسولو او د هغوی د تنظیمولو په برخه کې د اړتیا او فرصت په توګه لیدل کیږي.<br>**د تللیو مغزونو او استعدادونو بیرته راستنیدل:** د نړیوال حضور کمیدل ددې سبب ګرځي چې د ماهرو افغان مسلکي کسانو هڅونه وشي په تیره بیا هغه چې پخوا یې له نړیوالو مؤسسو سره یا هم د ملګرو ملتونو له ادارو سره دندې ترسره کولې او بیرته ملي غیردولتي مؤسسو او سیمه‌ایزو نوښتونو ته راستانه شي. دا له دې سره مرسته کوي چې د سیمه ایزو بنسټونو تخنیکي او ستراتیژیک ظرفیت پیاوړی شي او دا وړتیا ورکوي چې د مشرۍ لپاره زیات مسئولیتونه په غاړه واخلي او د بهرني انحصار کمولو سره لوړ کیفیت لرونکي پروګرامونه وړاندې کړای شي.<br>**د افغانستان اسلامي امارت له لوري ملاتړ:** د ملي ځان بسیاینې او اقتصادي عملي والي په لور بدلون د افغان نادولتي موسسو او سیمه‌ایيزو بنسټونو لپاره ددې زمینه برابره کړې؛ څو د مرستو رسولو په برخه کې خپل رول پراخ کړي په ځانګړې توګه هغه بنسټونو او مؤسسې چې له کلتوري پلوه غوره او د لګښت له زاویې ارزانه ګڼل کیږي. |
| **خطرات** | **د مرستو سیاسي کول:** د سیاسي چارواکو له لوري د ځینو نادولتي مؤسسو غوره والی؛ ممکنه ده چې د بې‌طرفي اصل له منځه یوسي او د وګړو مساوي لاسرسی کم کړي په ځانګړې توګه په جنجالي یا سیاسي حساسو سیمو کې.<br>**تنظیمي محدودیتونه او کمېدونکې مدني فضا:** سیمه‌ایيزې نادولتي مؤسسې په تیره بیا د ښځو په مشرۍ بنسټوونه له ډیرو ستونزو سره مخ دي د بیلګې په ډول د ښځو د ګډون په برخه کې محدودیتونه، د برنامو لپاره ساحه او د راپور ورکولو په څیر مخ په زیاتیدونکي محدودیتونه. دا هغه څه دي چې د دوی خپلواکي، عملیاتي فضا او د خلکو د بسیج کولو کچه یې کمزورې کړې ده.<br>**د خطر غیر مساوي لیږد:** له سیمه‌ایيزو لوبغاړو څخه ډیری وخت تمه کیږي چې د لوړ خطر دندې (د بیلګې په ډول په اخر وخت کې د مرستو وړاندې کول، خبرې اترې او لاسرسی) په غاړه واخلي پرته له دې چې د نړیوالو شریکانو څخه د مساوي پریکړې کولو واک، سرچینې، یا د خطر شریکولو وړتیا ولري. |

11 https://pledgeforchange2030.org/

12 2021, https://legalinstruments.oecd.org/api/print?ids=666&lang=en; 2025 Update; https://one.oecd.org/document/DCD/DAC(2025)9/en/pdf

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

## ۴. د سیمه‌ایزه‌کېدنې ننګونې، ستونزې او حل لارې

سره له دې چې سیمه‌ایزه‌کیدنه یو نوی غوړېدونکی خوځښت دی؛ مګر بیا هم له ډېرو پیچلو او یو بل سره تړلو ننګونو سره مخ ده. دا چې څوک باید "سیمه‌ایز" وبلل شي او دا جریان باید کومې پروسې ولري؛ ډېری وخت داسې کیږي چې سیاسي، اداري، مالي او عملیاتي محدودیتونو د همدې پروسه په وړاندې خنډ ګرځي چې لامل یې د هیواد بې ثباته او محدود چاپېریال دی.

د LTWG او ACSM په مشری د مشورو په لړ کې افغان او نړیوالو ښکیلو خواوو ټینګار وکړ چې سیمه‌ایزه رهبري ته لېږد یوازې د (چیرې) خبره نه ده، بلکې د (څه وخت) شرط هم پکې نغښتی دی. د سیمه‌ایزې‌کېدنې په برخه کې پرمختګ نه یوازې یو ستراتیژیک او اخلاقي اړتیا ده؛ بلکې دا د نن ورځې د کمیدونکو مرستو په درشل کې د پیسو پرتله‌ایز ارزښت لوړوي، ځکه چې سیمه‌ایز لوبغاړي ډېری وختونه پر ځای، تطبیقي او په کم لګښت سره ځوابونه وړاندې کوي.

په هرصورت، ددې لپاره چې دا لیږد مانادار او تلپاتې وي، باید د موجوده خنډونو په اړه ریښتینی پوهاوي ترلاسه شي؛ د بیلګې په ډول انعطاف منونکي تمویل ته محدود لاسرسی، د ظرفیت په برخه کې محدودیتونه او نور تنظیمي محدودیتونه. لاندې جدول د سیمه‌ایزکیدنې کلیدي ننګونې او احتمالي راتلونکي ګامونه په ګوته کوي، چې د دریو؛ مګر یو بل سره تړلو ساحو په شاوخوا کې تنظیم شوي دي: **واک او شمولیت، تمویل او لاسرسی**، او بلاخره **باور او ظرفیت**. دا کټګورۍ دواړه ساختاري جوړښت، ستونزې او عملي ملاحظات روښانه کوي کوم چې د مشورو په جریان کې په ګوته شول او د همغږۍ او اصولي عمل لپاره یو بنسټ بلل کیږي.

| ننګونې / ستونزې (مور چیرته یو) | سپارښتنې او راتلونکي ګامونه (څه باید وشي) |
|---|---|
| **واک او شمولیت** | **سیمه‌ایزو فعالینو ته د پریکړې سپارل** |
| **د واک نانډولي:** غیر دولتي ملي مؤسسې په ستراتیژیکو پریکړو کم نفوذ لري، چې له پورته څخه ښکته جوړښتونه پیاوړي کوي. | **د ګډې رهبرۍ او ګډ مدیریت د ماډلونو ملاتړ:** د سیمه-ایزې‌کېدنې تخنیکي کاري ډله (LTWG) او د افغانستان د سیمه‌ایزې کېدنې لب په څیر د نوښتونو تمویل او په هغوی کې برخه اخیستل؛ څو د مرستو جوړښت کې مشترکې طرحې او ګډ مدیریت بنسټیز او مسلکي شي. |
| **د همغږۍ او د مدیریتي جوړښتونو څخه محرومیت:** په کلسټرونو او مشورتي ډلو کې د ملي مؤسسو کمرنګه شتون. | **د همغږۍ په سیستمونو کې د سیمه‌ایز مدیریت فعاله کول:**<br>– په ملي او سیمه‌ایزه کچه د کلسټرونو او نورو کاري ډلو د مدیریت په پار د ملي مؤسسو د ګډون لپاره د تمویل او بسپنو وقف کول.<br>– ددې لپاره چې ملي مؤسسې د همغږۍ د مدیریت دندو لپاره چمتو شي؛ دوی ته باید موخه‌ایز ظرفیت پراختیا ورکړل شي. |

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

| | |
|---|---|
| | – د مدیریت دوراني ماډلونو ته باید وده ورکړل او په سیستماتیک ډول د همغږۍ په جوړښتونو کې د افغان نادولتي مؤسسو شبکې لکه (AWN، ANCB، SWABAC، ACBAR) شامل شي. |
| **مالي ملاتړ او اطاعت** | **د سیمه‌ایز لاسرسي د ورکولو لپاره د مالي سیستمونه اصلاح** |
| **د تمویل دوامداره نانډولي:** ډیری سرچینې د نړیوالو ښکیلو خواوو په لاس کې دي؛ او دا هغه څه دي چې سیمه-اییز بنسټونه ځنډې ته کوي. | **د تمویل مستقیمو موخو ته ژمنتیا:**<br>– د بشري مرستو لږترلږه ۲۵ سلنه په مستقیم ډول سیمه‌اییزو فعالینو ته ځانګړې کول.<br>– د هغو راټول شویو تمویلي میکانیزمونو پراخ کارول چې مستقیما د ملي مؤسسو لپاره د لاسرسي وړ وي. |
| **د مستقیم او انعطافي تمویل په وړاندې خنډونه:** د مطابقت یا اطاعت لپاره پیچلي شرایط، کوم چې تمویل ته مستقیم لاسرسی محدودوي. | **د افغانستان لپاره د تمویل د ځانګړې دریځې پر انستل:** د ځانګو طراحي شویو احتیاطي پروسو او د لاسرسي لپاره سیمه‌اییزو معیارونو سره وړ د میکانیزمونو رامینځته کول؛ چې د اکبر په څیر د منځګړو پلیټ فارمونو لخوا یې ملاتړ وشي. |
| **د جوړښت اړوند او اطاعتي ننګونې:** د بسپنه ورکوونکو یا هم نړیوالو مؤسسو ډیری پیچلي شرایط ددې لامل ګرځي چې د سیمه‌اییزو مؤسسو پر اوږو دروند بار پروت وي. | **د اطاعت او مطابقت ساده والی او د شر ایطو بر ابرول:**<br>– د مالي، اداري او راپور ورکولو سیستمونو د ښه والي په موخه، سیمه‌اییزو مؤسسو ته تخنیکي او مالي ملاتړ چمتو کول.<br>– د مالي ملاتړ کوونکو له لوري د انعطافي او شرایطو سره سم د اطاعت چوکاټونو ملاتړ کول؛ کوم چې وکولی شي حساب ورکونه او لاسرسی متوازن کړي.<br>– د تمویل کونکو او مرکزي دفترونو سره کار کول؛ ترڅو په افغانستان کې د عملیاتي واقعیتونو او ظرفیتونو سره سم د اطاعت چوکاټونه تطبیق کړل شي. |
| **باور او ظرفیت** | **د وړ او تلپاتې مشارکت رامنځته کول** |
| **د باور کمښت:** د سیمه‌اییزو فعالینو د بې طرفۍ په اړه اندېښنې ددې لامل دي چې د باور او فرصتونو کمښت | **د باور جوړونې او مشروعیت پر چوکاټونو پانګونه:** |

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

| | |
|---|---|
| رامنځته شي. دا اندیښنې د مرستو د انحراف، درغلۍ، او د غیر ارزول شویو یا سیاسي پلوه تړلو نادولتي مؤسسو د شتون له امله نورې هم زیاتې شوې دي. | – د افغان پلیټ فارمونو (د بیلګې په ډول د اکبر د LTWG ګروپ او د سیم‌ایزې‌کیدنې لابراتوار) لخوا رهبري شوي جوړښتیز د خبرو اترو د پروسو اسانه کول؛ ترڅو ګډ مشروعیت، حساب ورکونه، او د مشارکت او غړیتوب اصول تعریف کړل شي دا ددې ډاډ رامنځته کوي چې ملاتړ او حمایت باوري سیمه‌ایزو مؤسسو ته ورکول شي کومې چې په ټولنو کې ریښې لري او اصولي بشري او پرمختیایي عمل ته ژمنې دي.<br>– د خطر شریکولو او محلي مؤسسو د ملاتړ لپاره د شفافو او بې طرفه معیارونه رامینځته کول.<br>– د اصولي شریکانو یا غړو د انتخاب ډاډمنتیا: هغو مؤسسو ته لومړیتوب ورکول چې قوي ټولنیزې ریښې ولري، شفافه مدیریت او اصولي بشري او پرمختیایي کارونو ته څرګنده ژمنتیا لري. |
| **د استعدادونو کمښت او د بشري سرچینو نانډولي:** نړیوالې غیردولتي مؤسسې له ملي مؤسسو څخه ماهر کارمندان جذبوي، کوم چې د محلي یا ملي مؤسسو اداري ظرفیت کمزوری کوي. | **د سیمه‌ایز سازماني پایښت پیاوړي کول:**<br>د اوږدمهاله او انعطاف منونکي ملاتړ چمتو کول: د اداري ظرفیتونو د جوړولو او ساتلو لپاره سیمه‌ایزو/ملي مؤسسو ته د څو کلن او اساسي تمویل برابرول.<br>د معاشونو نانډولۍ ته د خسارې د ځانګړو پروسو په جوړول سره د حل لاره موندل؛ ترڅو سیمه‌ایز تخصص او پوهه په عادلانه توګه انعکاس کړای شي او د کارکوونکو ساتلو ته وده ورکړي. |
| **ننګونې / ستونزې (موږ چیرته یو)** | **سپارښتنې او راتلونکي ګامونه (څه باید وشي)** |
| **د سیمه‌ایزې‌کېدنې په اړه ناکافي لارښوونې:** سیمه‌ایزې ښکیلې خواوې د سیمه‌ایزې‌کیدنې د اصولو د پلي کولو په برخه کې کافي وسایل او امکانات نلري. | د سیمه‌ایزې‌کېدنې په برخه کې د لارښوونو او روزنو زیاتول:<br>د LTWG او د سیمه‌ایزې‌کیدنې لب سره همکاري کول؛ څو د سیمه‌ایزې کیدنې اصول او لارو چارو په اړه عملیاتي لارښوونې، روزنیز وسایل، او زده کړې رامینځته شي او خپرې کړای شي. |

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

## غوره کړل شوي اخځونه:

**افغانستان پورې تړلي اخځونه:**


ACAPS;

- 2024 / *Afghanistan: Different Understandings of Localization*;

  https://www.acaps.org/fileadmin/Data_Product/Main_media/20240816_ACAPS_Afghanistan_analysis_hub_different_understandings_of_localisation.pdf

- **2023 / *Analysis of localisation challenges in Afghanistan*.**

  https://www.acaps.org/fileadmin/Data_Product/Main_media/20230207_acaps_thematic_report_on_the_analysis_of_localisation_challenges_in_afghanistan.pdf

COAR. 2019. *LOCALISATION: Way forward for Afghanistan*:

- https://www.coar.org.af/images/pdf/Report-CoAR_on_Localization.pdf

**Humanitarian Advisory Group (HAG).** 2023. *Challenges and Ways Forward in Supporting Local Leadership of Crisis Response in Afghanistan;*

- https://humanitarianadvisorygroup.org/wp-content/uploads/2023/08/Supporting-Local-Leadership-of-Crisis-Response-in-Afghanistan_FINAL.pdf

**Humanitarian Policy Group (HPG).** 2021. *Covid-19: implications for localisation. A case study of Afghanistan and Pakistan;* ODI / HPC Working Paper;

- https://cdn.odi.org/media/documents/C19__localisation_Asia_case_study_WEB.pdf

**Peace Direct.** 2021. *Time to Decolonize Aid***;** includes Afghan localisation examples;

- https://www.peacedirect.org/wp-content/uploads/2021/05/PD-Decolonising-Aid-Report.pdf


**نړیوال اخځونه:**


**ALNAP / Active Learning Network for Accountability and Performance in humanitarian action**

- **2024. *Harnessing evidence and learning for people-centered humanitarian action*;**

  https://alnap.org/documents/20133/HARNESSING_EVIDENCE_AND_LEARNING_FOR_PEOPLE-CENTRED_HUMANITARIAN_ACTION_PceIUDL.pdf

- **2023. Learning to be more 'locally-led'? Current practice and evidence gaps in the international humanitarian sector;**

  https://alnap.org/documents/19695/Localisation_ALNAP-FINAL-1.pdf

- **Other Localisation Resource:**

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.


https://alnap.org/help-library/focus-topics/locally-led-humanitarian-action

**ActionAid, CARE,** Catholic Agency for Overseas Development (CAFOD), Christian Aid, Oxfam, Tearfund. 2019. Pathways to Localisation: A framework towards locally led humanitarian response in partnership-based action;

- https://reliefweb.int/report/world/pathways-localisation-framework-towards-locally-led-humanitarian-response-partnership

**Ground Truth Solutions.** 2025. *What crisis affected communities need from a humanitarian reset - A guide based on two years of conversations with people on the front lines of crisis*;

- https://www.groundtruthsolutions.org/library/what-crisis-affected-communities-need-from-a-humanitarian-reset

**Humanitarian Advisory Group (HAG)**

2024 / *The beginning of the road: A practical approach to defining and measuring localisation impact for communities*; with CoLab, GLOW Insights, PIANGO & Pujiono Centre.

- https://humanitarianadvisorygroup.org/wp-content/uploads/2024/09/HAG-HH2-PPLL-The-beginning-of-the-road.pdf

2024 / Evidence to influence more effective, efficient and equitable action – The missing link in localisation' with the Start Network;

- https://startnetwork.org/sites/default/files/2024-07/The%20Missing%20Link%20in%20Localisation.pdf

2023/ *A pathway to localisation impact: laying the foundations*; with CoLab & GLOW.

- https://humanitarianadvisorygroup.org/wp-content/uploads/2023/04/HAG-HH2-PPLL-Pathway-to-Localisation.pdf

2019 / *Measuring Localisation: Framework and Tools*; with PIANGO.

- https://humanitarianadvisorygroup.org/wp-content/uploads/2020/12/Measuring-Localisation-Framework-and-Tools-Final_2019.pdf

**Humanitarian Impact Institute**

2025. Localisation Maturity Model;

- https://hi-institute.org/localisation-maturity-model

2025. INGO Localisation Playbook;

- https://hi-institute.org/ingo-localisation-playbook

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

forthcoming. *Localisation Risk & Compliance*;

- https://hi-institute.org/localisation-risk-and-compliance

**Inter-Agency Standing Committee (IACS)**

2026. Grand Bargain Implementation Agenda towards 2026;

- https://interagencystandingcommittee.org/grand-bargain-implementation-agenda-towards-2026

2024. *Localization Good Practices*; Interagency Standing Committee Task Force 5 on Localization;

- https://www.icvanetwork.org/uploads/2024/09/IASC-Localization-Good-Practices-Feb-2024.pdf

2018. *Definitions Paper*, IASC Humanitarian Financing Task Team, Localisation Marker Working Group,

- https://interagencystandingcommittee.org/sites/default/files/migrated/2018-01/hftt_localisation_marker_definitions_paper_24_january_2018.pdf

2016. The Grand Bargain; https://interagencystandingcommittee.org/grand-bargain; Grand Bargain *3.0* (2023);

- https://interagencystandingcommittee.org/grand-bargain-official-website/grand-bargain-30-deenfr

**International Council of Voluntary Agencies (ICVA)**

2025 / Equitable Partnerships and Localisation: 'Grab and Go' Pocket Guide;

- https://www.icvanetwork.org/uploads/2025/04/ICVA-HF-Pocket-Guide-Equitable-Partnerships-Localisation_250410.pdf

2018 / *Localisation Examined: An ICVA Briefing Paper*,

- https://www.icvanetwork.org/uploads/2021/08/ICVA-Localization-Examined-Briefing-Paper.pdf

2019 / *Unpacking Localisation*; Humanitarian Leadership Academy;

- https://www.icvanetwork.org/uploads/2021/08/Unpacking-Localization-ICVA-HLA.pdf

**IFRC (2021)**

*Localization - what it means and how to achieve it; Policy Brief;*

- https://www.humanitarianlibrary.org/sites/default/files/2021/07/Localization-external-policy-brief-4-April-2.pdf

**Inter-Agency Toolkit on Localisation in Humanitarian Coordination** / 2022; Global Child Protection Cluster, Global Education Cluster, Global Nutrition Cluster, WASH Cluster;

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

https://resourcecentre.savethechildren.net/pdf/Localization-humanitarian-action-toolkit-Pilot-version.pdf

**NEAR Network**

2025. Inside NEARS Localisation Labs: Where Power Shift and Change Begins;

- https://www.near.ngo/blog/inside-nears-localisation-labs-where-power-shifts-and-change-begins

2023. "*Co-investigators but with different power: Local voices on the localization of humanitarian research*. Fitzpatrick, M., I. Cordua, T. Atim, A. Kattakuzhy, and K. Conciatori; Feinstein International Center, Friedman School of Nutrition Science and Policy at Tufts University and Network for Empowered Aid Response. Boston, MA;

- https://www.near.ngo/s/FINAL-LocalizationOfHumResearchFinal2.pdf

2017. Localisation Performance Measurement Framework;

- https://www.near.ngo/lpmf

ND. Localisation Policy;

- https://www.near.ngo/localisation-policy

**Other resources;**

- https://www.near.ngo/advisory-panel-on-the-future-of-humanitarian-action

**European Commission (ECHO)** ***Localisation Commitments*;**

https://civil-protection-humanitarian-aid.ec.europa.eu/funding-evaluations/financing-decisions/humanitarian-aid-partnerships_en

**OECD DAC**

2025. *Update on the DAC Recommendation on Enabling Civil Society in Development Co-operation and Humanitarian Assistance & the DAC-CSO Framework for Dialogue*;

- https://one.oecd.org/document/DCD/DAC(2025)9/en/pdf

*2023. Shifting the Power: Realising Localisation in Practice; Peer Learning Review on Localisation;*

https://www.oecd.org/dac/peer-reviews/shifting-the-power.htm

2021. Enabling Civil Society;

- https://legalinstruments.oecd.org/en/instruments/OECD-LEGAL-5021;

**Disclaimer:** This unofficial translation of a document has not been approved by any government agency. Although efforts have been made to ensure accuracy-ACBAR.

- https://www.oecd.org/content/dam/oecd/en/publications/reports/2021/03/development-co-operation-tips-tools-insights-practices_d307b396/enabling-civil-society_caebbaf8/7a182c48-en.pdf
- https://pledgeforchange2030.org/

**Save the Children Resource Centre.** Over 400 resources on localisation:

- https://resourcecentre.savethechildren.net/collection/localisation

نوري لوستني:

Baguios, A., King, M., Martins, A. and Pinnington, R. (2021) *Are we there yet? Localisation as the journey towards locally led practice: models, approaches and challenges*. ODI Policy Brief. London: ODI

- https://odi.org/en/publications/are-we-there-yet-localisation-asthejourney-towards-locally-led-practice

Conflict Sensitivity Resource Facility (CSRF) / 202.1 *Localisation and conflict sensitivity: Lessons on good practice from South Sudan.*

- https://www.csrf-southsudan.org/repository/localisation-and-conflict-sensitivity-lessons-on-good-practice-from-south-sudan/

Global Interagency Security Forum (GISF) / 2024. *Neutrality, Access and Making Localisation Work*;

- https://gisf.ngo/wp-content/uploads/2024/11/Neutrality-Access-and-Making-Localisation-Work.pdf